# خلک نه غولیږی

ولی سر دی نه خلاصیږی له ځان څه دی بیا جوړ کړی
یا غلیم ته تسلیم شوی یا کلمی دی چا غوړ کړی
تاو تریخوالی په وطن کی ټول ستا دی د لاسه
ستا روان کله نا کله ستا وجدان را پړ کړی
ته خو هسی ځان ظاهر کی مسلمان او افغان بولی
کله هم د بی وزلو وږی نس تا موړ کړی
په تسبو او سپین جامو دی ګوره خلک نه غولیږی
اور چی تا وه را بل کړی اور دی بیا نه دی مړ کړی
ته له سره نه افغان ، نه مومن ، نه مسلمان یی
د پردو د لاس نانځکه د خپل قوم تا رنګ خړ کړی
ولی خلک ځوروی ستا ځواب به خلک ته څه وی ؟
چی د مینی ګرم زړونه پخپل کړو دی تل سوړ کړی
مغرور مه کیږه ظالمه د ظالمو کور تل وران وی
خلک ټول دی سوالګر کړل سوالګری ته دی اړ کړی

پوهندوی دوکتور سید حسام (مل)

جرمنی ۹-۱۲-۲۰۰۸